مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۱/۰۹

# د مینې رهبران

## "غزل"

هغه خلک اوس د مینې رهـبران شول
چې یـې وینه د قـام ښـبنله اتـلان شول
دې اټکل او دغې پوهې ته حیران یم
چې لاسونه یـې په وینو ؤ مشران شول
د غیرت دیوال د اوښکو سیلاب ړنګ کړ
پـه پـردو مـتو راغلــي پاچایان شول
جنګ یې راوړل د نفرت حکمراني شوه
پردي پال دي په نامه تول افغانان شول
پسرلـیـه! تـا مې زړه کې ځای پیدا کړ
چې وطن دی په چا ګران، په ما هم ګران شول

** * **

# تـنـها روان یم

## نظم

تنها روان یم خو کاروان بـه شمه | د ښائیستونو خـوږ دوران بـه شمه
دا غم ځپلي وخت به تېر شي زما | ځلانـده ستـوری د آسمان بـه شمه

خیر که دا دور د مجبورۍ تېروم　　　شپې د هجران په بیدارۍ تېروم

زه پـه شعـور او فلسفـه پـوهـېږم　　　که ځان مې وپیژند د ځان به شمه

ځلانـده ستورى د آسمان به شمه

احساس په زړه کې د لیلا لـرمـه　　　لا په بـدن کـې پـوره سـاه لـرمـه

ځکه رنګونه په ژوندون کې ګورم

وخت به راځي چې ستا جانان به شمه　　　ځلانده ستورى د آسمان به شمه

مست کیفیت په سباوون کې ګـورم　　　احساس او فکر په ژوندون کې ګورم

مستو نغمو ته مې رباب راواخست　　　د سولې کور په دې جهان به شمه

ځـلانـده ستورى د آسمان به شمه

** * **